مصطفی پسرلی

۲۰۱۸/۱۱/۱۸

# د کرکي اور په هره خوا بلیږي

## غزل

د مات وجود ماتـې جذبې شمارو مونږ

څـو بـې بـاوره سلسلـې شمارو مونږ

د کـرکـې اور پـه هـره خـوا بلـیږي

پـه تـن مو بلې سرې لمبې شمارو مونږ

هـر خـوا د سـرو وینـو ویـالي بهیـږي

بس د سلـګیـو زمـزمـې شمـارو مونږ

نــن که سبا دی، رانـه ســاه وبـاسي

یو څو د ژوند ورځې او شپې شمارو مونږ

هغه چې مونـږ به پـرې یرغل کولـو

اوس د هغوی په ځان حملې شمارو مونږ

لـوی طاقتـونـه چـې لـه مــا وېریدل

اوس یـې لښکـرې، قافلـې شمارو مونږ

یـه "پسرلیه" جنګ نسلونـه ورک کړل

راتګ د سولـې تـه شیبې شمارو مونږ

۱۷/۱۱/۲۰۱۸



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com